
www.sikaraam.com



# ابراهم لینکن څوک و؟

لیکوال: جي آر

ژباړن: ارشاد علي

SIKARAAM



ارشاد علي د رحمت الله زوی د خوست ولایت د اسمعیل خیلو سیمې اوسیدونکی دی او د انگلیسي ژبې او ادبیاتو پراخه مطالعه لري او په همدې مهارت او مینه یې دوه کتابونه پښتو ژبې ته هم ژباړلي دي چې یو یې همدا هڅه ده د لا زیاتو هڅو او بریاوو په تمه یې یو.

۱۴۰۲ لمریز

# ابراهام لینکُلن څوک و؟

لیکواله: جانیټ پاسکال
رسام: جان اوبراین
ژباړن: ارشاد علي
کال: ۱۴۰۲ ه. لمریز

# لړلیک


ابراهام لینکُلن څوک و؟ ______ 3

۱ـ لومړۍ څپرکی : د لرګیو په یوه کابین(وړه کوټه) کې ژوند ______ 5

۲ـ دویم څپرکی ـ پراخه نړۍ ______ 13

۳ـ دریم څپرکی ــ د کانګریس غړی ______ 19

۴ـ څلورم  څپرکی ـ غوره مناظره کوونکی ______ 27

۵ـ پنځم څپرکی ـ ښاغلی ولسمشر.! ______ 34

٦ـ شپږم څپرکی ـ کورنۍ جګړه ______ 40

۷ـ اووم څپرکی ـ د غلامۍ پای ______ 54

۸ ـ اتم څپرکی ـ دوې دقیقې وینا ______ 59

۹) نهم څپرکی ـ جګړه وګټل شوه ______ 66

۱۰)لسم څپرکی ـ ولسمشر سره خدای په اماني ______ 77

د ګیټېسبرګ وینا ______ 83

د ابراهام لینکُلن د ژوند پیښلیک ______ 84

د ابراهام لینکُلن په ژوند کې د نړۍ پیښلیک ______ 85

# د سریزې په نوم

دا کتاب چې تاسو یې لولئ په ساده او عامیانه ادبیاتو او په پنسل کنبل شویو انځورونو سره لکه کیسه داسې لیکل شوی او هغه هم چې برېستنه کې دې پښې تودې وي او یو څوک درته نکلونه وایي. دا کتاب د امریکا د یو لوی او ډېر مشهور ولسمشر ابراهام لینکُلن په ژوند باندې لیکل شوی دی او ژوندلیک یې دی چې دا یادونه اړینه ګڼم چې په نوم کې یې دوهم ل توری تقریبا ساکن دی او تقریباً لینکن ویل کیږي. دوه کاله وو که دوه نیم کاله وړاندې راته دا کتاب قدرمن ارشاد علي راوسپارلو چې سمون په کې راولم او انلاین یې خپور کړم خو هغه مهال زموږ خپله انلاین کتابتون، سیکارام، هم نه و او بله دا چې زما خورا تنبلۍ هم دا کتاب وځنډولو. ارشاد علي انګلیسي ادبیات ویلي دي او خورا ښه یې ویلي دي خو تر ټولو ښه ځانګړنه یې دا بولم چې زما لټۍ ته یې دومره حوصله کړې او داسې یې ندي ویلي چې ولې تر اوسه نه و خپور شوی بلکې یو بل یې هم ژباړلی دی او هغه هم رالیږلی دی. ایله چې اوس مې د دې کتاب تر خپل وس او پوهې سمؤنه وکړه، کمپوز مې کړ او ورته مې ښپنتۍ ډیزاین کړه.

ابراهام لنکلن د امریکا او نړۍ تاریخ کې د غلامۍ د ازادۍ یو ډېر مشهور او منلی ملاتړی یادیږي او که څه هم ځینې لیکوالان او تاریخپوهان وایي چې امریکا باندې نور غلامان بوج وو او باید په کارګرانو یې بدل وای چې پانګوال نظام منځته راغلی وای او وده یې کړې وای خو بیا هم زما له نظره هغه واقعاً یو لوی او زیارکښ انسان و چې له یوې کورتۍ بغیر یې څه نلرل خو تر ولسمشرۍ یې ځان ورساوه، د دومره مخالفتونو سره سره یې غلامي منع کړه، تور پوستي وګړي یې له غلامۍ ازاد کړل او ویشلې امریکا یې بېرته یوه کړه، په داسې حال کې چې امریکا ته د مهاجرینو ټاټوبی ویل کیږي او هغه وخت له هر هېواد، مذهب او ژبې څخه خلک ورغلي وو او د هر یو سیاسي جوړښت خورا توپیر درلود. د دغه ټولو ستونزو سره سره چې کله یې بریا وموندله نو خپل مخالفینو ته یې د ښښنې، زغم او بیا یوځای کیدو غېږه پرانیسته. زما له نظره هغه د امریکایي نشنلیزم یو لوی بنسټګر دی او آن له جورج واشنګټن هم د امریکا لپاره یو لوی او اغېزناک شخص تېر شوی دی. تاسو د دغه کتابګوټي لوستلو ته رابولم او دا کتاب خامخا خپلو ماشومانو ته هم وښیئ تر څو له خپل وطن سره یې مینه له وړوکوالي په څېو راشي او هم پوه شي چې بریالیتوب څومره زیار غواړي. د دغه کتابګوټي ژباړلو او سیکارام ته د وړیا خپرولو لپاره ورکولو پخاطر له ملګري ارشاد علي ډېره مننه کوم او د لا بریاوو هیله ورته لرم. کور یې ودان.

د یو ودان، سوکاله او هوسا افغانستان په هیله


احمد سمون شریفي

۲۰۲۴/۰۱/۱۴

# ابراهام لینکُلن څوک و؟

**د اپریل یوولسمه، ۱۸٦۵ میلادي کال**

د خونړیو څلورو کلونو وروسته د امریکا کورنۍ جګړه - د شمال او جنوب تر منځ جګړه ـ پای ته نیږدې شوې وه؛ او دا ښکاره وه چې شمال به یې ګټي. ولسمشر ابراهام لینکُلن د دې لپاره جګړه کړې وه تر څو د یاغي شوي جنوب د اتحادیې څخه د وتلو مخنیوی وکړي او غوښتل یې



چې هیواد یې متحد او د امریکا متحده ایالات پاتې شي.

د سپینې ماڼۍ له کړکۍ څخه ولسمشر هغه لویه ډله خلکو ته چې لاندې راټول شوي ول وینا کوله، دوولس کلن زوی ټاد یې په پښو کې د هغو پاڼو پر ټولولو مصروف و کوم چې ولسمشر د وینا پر مهال پر ځمکه غورځولي وې.

د خلکو په منځ کې یوه سړي په لوړ اواز غږ وکړ: « موږ باید له دغو یاغیانو سره څه وکړو؟»




کوم چا ځواب ورکړ: په دار یې ځړوو..!

وړاندې له دې چې ولسمشر ځواب ورکړي، ټاد سر راپورته کړ ویې ویل: نه..! موږ باید په دوی پورې ځان ونښلوو.


بعضې وخت به ټاد له هر چا څخه ښه د خپل پلار حالت درک کولو؛ ولسمشر لینکُلن غوښتل چې په ماته خوړلو جنوبي ایالاتونو پسې ځان خښ کړي(ونښلوي)، غوښتل یې دوی ته دا احساس ورکړي چې تاسې یو ځل بیا د اتحادیې غړي شوي یاست، دی غچ اخیستلو ته دومره لیواله نه و. لینکُلن یو نامتو ولسمشر او یو فوقالعاده سړی و. هغه دا هیله لرله چې خپل دښمنان بیرته پر خپلو دوستانو بدل کړي.

## ۱ـ لومړۍ څپرکی : د لرګیو په یوه کابین (وړه کوټه) کې ژوند

هغه سړی چې زیات کله د امریکا تر ټولو غوره ولسمشر بلل کیږي؛ په ۱۸۰۹ م کال کې د فبرورۍ پر ۱۲ د امریکا د کینټاکي ایالت په یوه لرګین کابین کې وزیږید. اتلس فوټه اوږده او ۱٦ فوټه پلنه کوټه چې خیرن ډاګ یې لاره او کړکي یې نه لرل.



**د لرګیو کابین**



**د لرګیو د کابین دننه برخه**

پلار یې توماس لینکُلن یو خاموش او زیار ایستونکی سړی و چې د خپلې ایمانداری او صداقت له امله مشهور و. لږ تعلیم یې درلود- فقط دومره چې خپل نوم ولیکي.

د ابراهام مور؛ نانسي هانکس لینکُلن یوه تکړه او پلټونکې ښځه وه، لږ لوست یې کولای شو خو له لیکلو څخه بې برخې وه.

د لینکُلن کورنۍ غریبه وه، له یوه کوچني فارم څخه به یې بل کوچني فارم ته کډه کوله تر څو ژوند یې دوام ومومي. کله چې ابراهام اووه کلن وو، کورنۍ یې له کینټاکي څخه انډیانا ایالت ته کډه شوه.




د کډه کولو یو لامل یې دا و چې کینټاکي یو اسیر ایالت و، پداسې حال کې چې انډیانا یو ازاد ایالت و. د لینکُلن کورنۍ له غلامۍ کرکه لرله. ابراهام وروسته وویل چې تر کومه چې زما په یاد دي؛ په طبیعي توګه د غلامۍ ضد وم. بلاخره د لینکُلن کورنۍ په ایلینوی کې په یوه کوچني فارم کې واړول.




د کوچنیو ماشومانو په څیر؛ ابراهام او مشرې خور یې سارا سخت کار کاوه، ابراهام د خپل عمر په نسبت جیگ او قوي و. کله چې اته کلن شو نو کولای یې شول تبر واخلي او د نورو سړیو په څیر لرگي مات کړي. په یوي کولو او د حاصلاتو په ریبلو کې به یې هم مرسته کوله خو له ښکار سره یې نه وه جوړه. کله چې اووه کلن و یو وحشي فیلمرغ یې وویشت او هماغه وخت په دې پوه شو چې د شیانو له وژلو کرکه لري.

کله چې نهه کلن و، مور یې مړه شوه؛ دا د ده او خور لپاره یې یوه لویه ضایع وه. توماس لینکُلن نشول کولای چې ماشومان په یوازې ځان رالوی کړي او کور یې هم د نورو خلکو څخه مایلونه لیرې و. بیرته کینټاکي ته ولاړ او له یوې نوې ښځې سره راوگرځېد.



سارا بوش جانستن د دریو ماشومانو کونډه مور وه، خپل ټول لوازم یې چې ښایسته کټونه، یو میز او څوکۍ ول؛ له ځانه سره راوړل او دا شیان د لینکُلن ماشومانو ته یو څه نوي او جالب ښکاره شول. دا چې خپله مور یې ډېره یادېدله نو ډېر ژر یې د سارا سره مینه پیدا شوه، د ده ټول کارونه به یې ستایل او جرأت به یې ورکاوه. ده به هم هڅې ته د (ماما) غږ کاوه او له خپل پلاره هم هغې ته ډېر نږدې و. د همدې سارا له کبله ابراهام ته خپل ماشومتوب د یوه ښه وخت په څیر یادېدو.



د زيات کار کولو پر بنياد ابراهام ته د درس ويلو زيات وخت نه و، په هغه صحرا کې زيات ښوونځي نه ول. په کينټاکي کې ابراهام د (اې بي سي ښوونځی) په نامه يوه ښوونځي ته تللو، چيرته چې يې يوازې الفبا زده کړه خو په لوستلو او ليکلو نه پوهيدو. په انډيانا کې به کله کله يوه ناکاره ښوونځي ته تلو ، هغه ځای چې ټولو زده کوونکو به درسونه په لوړ اواز او يو ځای لوستل. د ښوونځي مشر به دوی ته په هغه شور کې غوږ نيولو تر څو غلطۍ ترې نه وباسي.





.

ابراهام په پنځلس کلنۍ کې له ښوونځي سره په ښه ډول مخه ښه وکړه، که څه هم یوازې یو کال ښوونځي ته ولاړ؛ خو دا یې زده کړل چې څنګه لوستل وکړي. اوس یې کولای شول خپل ځان ته هغه څه تدریس کړي کوم څه چې ده غوښتل. هر رقم کتاب به یې چې پیدا کولو نو د لوستلو دریغ به یې نه کاؤه، یو وار یې شل میله مزل د یوه کتاب د اخیستو لپاره کړی وو. د کتاب ختمیدو به ورڅخه زیات وخت نیولو، ځینو خلکو به فکر کاوه چې دی ورو او لیوال نه دی خو مېره مور یې پدې پوهېده چې ولې زده کول ورڅخه دومره وخت نیسي. هغه غوښتل چې پدې مطمین شي چې په هر څه په ریښتیني ډول پوهیدلای دی. کله وار به یې د کتاب یوه نیمه برخه په زړه کې ساتله؛ ځکه کاغذونه قیمته او په سخته د لاسرسي وړ ول. ده به لیکنې د لرګي په یوه ټوټه کولې، کله به چې ډېره توره شوله نو خپل لیکل به یې نشول لیدلای، هغه به یې صفا کړل او له سره به یې لیکل شروع کړل.

**د لینکلن د خوښې وړ کتابونه**

**د یوه ماشوم په توګه به ابراهام هغه کتابونه ډیره لوستل کوم چې یې میرې مور سارا د ده د پلار سره تر واده کولو وروسته له ځانه سره راوړي ول. پدې کې بابل(مقدس کتاب) همدا دول د ایزوپ افسانې شاملې وې؛ هغه له دې افسانو سره ډیره مینه لرله او ده ته یې دا وښوده چې څنګه وړې کیسې استعمال کړي او مهمو نقطو ته اشاره وکړي. د شکسپیر مقالې یې هم یادې کړي وې او د ولسمشرۍ تر وخته پورې یې تکرارولې. یو بل د خوښې وړ کتاب یې د جورج واشنګټن بایوګرافي وه، دا چې یو ماشوم و؛ نو پدې نه پوهیدو چې دی به هم یوه ورځ یو بې مثاله ولسمشر وي.**






خلکو ابراهام خوښاوه، دی د خندوونکو ټوکو په ویلو کې له هر چا وړاندې و. د عملي ټوکو له امله هم مشهور وو. یو وار پدې توانیدلی و چې دوه سړي کومو چې په یوه ورځ واده کولو؛ غلطو ناویو ته ورولي، خلک کلونه وروسته هم د هغې ټوکې په هکله خبرې کوي.


## ۲- دویم څپرکی - پراخه نړۍ

ابراهام لینکُلن پوهیده چې نه غواړي د پلار په شان بزگر شي خو پدې هم نه پوهیدو چې څه غواړي ترسره یې کړي، کله چې یوویشت کلن شو نو پریکړه یې وکړه چې کور پریږدي او یو څه ترلاسه کړي.



د سنگامون په سیند کې د بادباني کشتیو سره چې له سامانو ډکې وي؛ په مرسته کولو وگمارل شو. یو وار د دوی کشتي د مرکزي ایلینوی په نیو سالیم کې د اوبو په یوه بند کې بنده پاتې شوه، کشتي د اوبو څخه ډکیدله، لینکُلن او نورو سپرو نشول کولای چې د اوبو مخه ونیسي خو ناڅاپه د لینکُلن مغزو ته یوه نایابه مفکوره ورغله، د کشتۍ په مخکینی برخه کې یې یو سورۍ وکړ او ټول شیان یې وروستنۍ برخې ته ولیږدول، اوبو د سوري خواته زور وکړ او کشتي په دومره اندازه پورته شوه تر څو له بنده تیره شي. ډنټون افوټ؛ د کشتۍ مالک دومره متاثره شوی

و چې لینکُلن ته یې په کاروبار کې د شریکیدو وړاندیز وکړ. پریکړه یې وکړه چې په نیو سالیم کې به یوه مغازه پرانیزي او لینکُلن به یې اداره کوي.



**نیو سالېم**




**د ډنټون افوټ مغازه**


نیو سالیم یو کوچنی کلی وو خو لینکُلن ته لوی او ګڼ ښکاریده. د ده مغازه هغه ځای و چیرته چې به خلک راټولیدل. لینکُلن ډېر ژر مشهور شو او د خلکو اعتماد یې لاسته راوړو، هغه هېڅکله نه غوښتل چې له چا ګټه پورته کړي، حتی د پیسو په بدل کې هم. د مناظرې له یوه دفتر سره یو ځای شو او د ښار په سیاست کې یې ګډون وکړ. هغه د محلي محکمې په غونډو کې هم ګډون وکړ. په ځینو مواردو کې د سولې خوځښت هم له ده څخه مشوره اخیستل پیل کړل؛ ځکه هغه څه چې ده به ویل ډېر خندونکي ول، خو مشورې یې تل غوره او دقیقې وې. ډېر ژر خلکو د قانوني مشورو اخیستلو لپاره ده ته راتلل پیل کړل. لینکُلن فقط په ښار کې خلک نه کړل متاثره؛ بلکې د کروندو یو ډله بداخلاقه هلکان چې (د کلیري ګروو ډله) به یې ورته ویل د هغه ځوان لینکُلن چې هر چا به ډېر ستایه، صفتونه واوریدل. دوی غوښتل چې سم یې وډبوي نو د دې لپاره یې د ریسلینګ یوې لوبې چلنج ورکړ؛ نیوهیرو چې لینکُلن وګټله که ویې بایلله خو په چل سره یې د ډلې هلکان تر خپل نفوذ لاندې راوستل او ویې ګټل. دوی د لینکُلن ملګري او وفاداره مرستندویان هم شول.



په ۱۸۳۲ کال کې د لینکُلن ملګریو دی وهڅاوه تر څو د ایلینوی ایالت مقننه هیات ته ځان کاندید کړي، انتخابات یې ونه ګټل خو نږدې شو، په همدې وخت کې د افوت مغازه هم ناکامه

شوه؛ چې له دې سره لینکُلن خپله دنده له لاسه ورکړه، په همدې وخت کې د ایلینوی مهاجرانو او اصلي امریکایانو تر منځ جګړه ونښته او لینکُلن هم د پوځ سره یو ځای شو. په حقیقت کې یې هېڅ جګړه ونه کړه خو د هغو وینو له کبله یې په ځان ویاړ کاوه چې د مګسو (منګاسو) د وژلو پر مهال یې تویې کړي وې. پریکړه یې وکړه چې د مقننه هیات لپاره بیا ځان کاندید کړي؛ په نیو سالیم کې یې د خپلو ملګرو پر ملاتړ حساب کاوه خو ځینو بزګرو فکر کاوه چې دی هسې ښاري مولۍ ده، کوم چې په پټیو کې په کار کولو نه پوهیږي نو د همدې لپاره لینکُلن د بزګرۍ کارونو سره تن په تن شو.






دې کار ده ته د بزګرانو رايه وګټله او لينکُلن د (کليري ګروو) په ډله هم حساب کولو چې ده ته به رايه ورکړي، همداسې وشول او لينکُلن  دا وار بريالی شو. لينکُلن فکر کولو چې که چيرې په قانون ډېر پوهيدلای نو يو ښه استازی به وای، نو د حقوقو د کتابونو په لوستلو يې پيل وکړ. که څه هم هېڅکله يې حقوق په رسمي ډول نه ول لوستي، خو فکر يې کولو چې د ورځې په هره ثانيه کې ځان ته په تدريس کولو به د حقوقو سند تر لاسه کړي. زيات کله به يې  مطالعه پدې شکل کوله چې؛ ملا به يې د ونې تنې ته تکيه کړې وه او پښې به يې پر ځمکه ايښې وې،  کله به چې لمر حرکت وکړ نو دی به هم د ونې چارچاپير پسې تاويده.

## لینکلن او ذهني فشار ( ډیپریشن)

لینکلن له ژونده خوند اخیست. زیات کله به د خلکو تر منځ و، کیسې به یې کولې او کله به چې اساسي مطلب ته ورسید؛ نو له هر چا څخه به ده سخت خندل خو د ده تر څنګ خلکو دا هم درک کړي وه چې له ده سره به کله وار سخت فشار او خفګان مل ول. کله وار به  له یو ساعت ټوکو ویلو وروسته به په داسې حال کې یوازې وموندل شو چې سر به یې د ګونډو تر منځ ننباسلی و او هېچا دا جرأت نشو کولای چې پدغو وختو کې ده ته نیږدې ورشي. لینکلن ټول عمر د ذهني فشار د حملو له کبله وکړید.




## ۳ـ دریم خپرکی ـ د کانګریس غړی

په ۱۸۳۷ کال کې لینکُلن د نوي ایالت مرکز؛ سپرینګ فیلډ ته ولاړ، سپرینګ فیلډ تر اوسه هم یو سرحدي ښار و چې د لرګي کابینونه ( کوټې، کورونه) پکې و. خوګانو به په خیرنو سړکونو په ازاد ډول منډې وهلې خو تر دې مهاله دا دې لینکُلن لپاره تر ټولو لوی ښار و چې پکې اوسیدلی و، یو کتابتون یې هم درلود. د یوه ملګري په حقوقي شرکت کې یې کار کاوه او کاغذي کارونه به یې څارل. پدې کار کې دومره ښه هم نه و. یو عادت یې دا وو چې مهم کاغذونه به یې په خپله د بخارۍ نل ته ورته جېګه خولۍ کې کیښودل او کله وار به یې ورک کړي ول.



ایالاتي حکومت به د کال په یوه برخه کې جلسه دایروله او د حقوق پوهانو لپاره په سپرینګ فیلډ کې کوم د پام وړ کار نه و چې خپل ژوند پرې مخته یوسي، نو  د ډېرو لویدیځو حقوق پوهانو په څیر؛ لینکُلن هم مجبور و چې د ایالت چارچاپیر ښارونو ته سفر وکړي. په کال کې دوه ځله به قاضي  ټول هغه ښارونه لیدل چې د کوچنیوالي له کبله به یې خپلې محکمې نه لرلې، لینکُلن هم د هغو حقوق پوهانو سره یو ځای شو کومو چې د قاضي لار تعقیبوله.




ټولو به په یو ځای سفر کاوه. د شپې به په وړو او خامو مسافر خانو ورننوتل، کله وار به شل نفره هم په یوه کوټه کې ځای پر ځای شول. لینکُلن به زیات کله پر ځمکه ویده کیده. له څو ورځو وروسته به ډلې بیرته حرکت پیلاوه، کله وار به سړکونه ډېر خراب ول او دوی مجبور ول چې په پښو ولاړ شي. له دې امله چې لینکُلن اوږدې پښې لرلې، نو ملګریو به یې دی  لومړی ویالو او لښتیو ته ورښکته کاوه تر څو ژوروالی یې معلوم کړي.




## ويګز او ديموکراتان


متحده ايالاتو په خپل تاريخ کې مختلف احزاب لرلي دي چې ډېر کله به يې يو شان خو ګنګس کونکي نومونه لرل. داسې يوه ډله هم وه چې نوم يې (جمهوريت غوښتونکي ديموکراتان) وو. کله چې لينکلن شروع کوله نو مهمې ډلې ويګز او ديموکراتان وې؛ ديموکراتانو د ايالاتونو د حقوقو پلوي کوله، دوی فکر کولو چې هر ايالت بايد دا توان ولري چې ځان اداره کړي. ويګزانو بيا غوښتل چې يو قوي مرکزي حکومت ولري. دوی ويل چې حکومت بايد پر مخ لاړ شي او د هغو پرمختګونو لپاره بايد پيسې ورکړي کوم چې هيواد رغولای شي. لينکلن يو ويګز و، په خپله وړاندينۍ دنده کې يې د کانالونو او ريل سړکونو جوړولو ملاتړ کولو تر څو د تجارت او ليږد راليږد په چارو کې د اسانتيا لپاره کومک وکړي.



لینکُلن د ویګز ډلې یو قوي ملاتړی و؛ ډېر ژر په ایلینوی کې د دغه حزب یو مهم غړی وټاکل شو، هر چیرې به چې تلو نو د ویګز د کاندیدانو لپاره به یې سخت کامپاین کولو حتی تر دې چې زرګونه رایه اچونکي به یې پر نامه پیژندل لینکُلن د ډېرو خلکو سره راحته و خو د ځوانو میرمنو پر وړاندې به شرمیده او وارخطا کیده به. سپرینګ فیلډ ته تر تګ دوه کاله وروسته یې په یوه میلمستیا کې له میري ټاډ سره ولیدل، که څه هم د ګډیدو پر مهال یې لینکُلن پر پښو څو څو واره وروخوت خو د میري لینکُلن خوښ شو. میري د جنوب یوه ښکلي ښځه وه او په یوویشت کلنۍ کې واده ته ډېره لیواله وه، ښایسته او د توجو جلبونکي وه. په خپلو زیاتو خبرو کولو سره یې لینکُلن په خپله ولکه کې نیولی و، میري د هغو وخت د زیاتو ښځو برخلاف د سیاست علاقمنده وه او زیات کله به یې ویل چې له داسې چا سره به واده کوي چې یو وخت به ولسمشر وي.



دوی د ۱۸۴۲ کال د نومبر پر څلورمه واده وکړ. لینکُلن به د دې په هکله ټوکې کولې چې څومره عجیبه ده چې یو څوک به له ما سره واده کوي. یو ملګري ته یې لیکلي ول چې: زما له واده پرته؛چې ماته یوه عمیقه او د تعجب وړ موضوع ده، نور څه نوي نشته. د میري د واده پر ګوتمۍ لینکُلن دا جمله حکاکي کړي وه ( مینه دایمي ده).




په لومړيو کې دغه جوړه په يوه هوټل کې اوسيده خو ژر يې يو کور واخيستو، کور کوچنی او ډېر ښکلی نه و خو دا د لينکُلن لومړی اخيستل شوی کور ؤ. له واده نهه مياشتې وروسته يې لومړی ماشوم رابرټ پيدا شو، دوه کاله وروسته يې دويم زوی ايډوارډ پيدا شو خو په درې کلنۍ کې مړ شو. بلاخره يې دريم زوی ويلي او څلورم زوی توماس هم پيدا شول. کله چې توماس پيدا شو، سر يې ډېر غټ و او لينکُلن فکر کولو چې د چونګښې زوی ته ورته دی؛ له همدې امله هلکانو ورته د ټاډ لقب ورکړ. پلار او مور يې ماشومان ډېر خراب روږدي کړي ول، کله به چې لينکُلن ماشومان خپل قانوني دفتر ته له ځان سره بوتلل، دوی به سيګرټ دانۍ او قلم دانی پر ځمکه وويشتې. پاڼې به يې خورې ورې کړې او بيا به پرې ګډيدل. د لينکُلن ملګرو به کله وار ورته وويل: واړه ورميږونه يې تاوولو ته ضرورت لري؛ خو لينکُلن هېڅکله خپل ماشومان نه ترټل.

# عکاسي

کله چې ابراهام لینکلن پیدا شو، عکاسۍ وجود نه لرلو؛ د ده د عمر په جریان کې د دایمي عکسونو اخیستلو نوي میتودونه کشف شول. خپل عکس(رسامی) ته کیناستل یو فیشن وګرځید، اوس موږ پوهیږو چې لینکلن او کورنۍ یې څه ډول وه. د لینکلن لومړی عکس د ۱۹۴۶ کال شاوخوا ( هغه مهال چې ګیره یې پرمخ نه وه) اخیستل شوی، د میري عکس هم په عین وخت کې اخیستل شوی دی. عکسونو کورنۍ جګړه د مخکینیو جګړو په پرتله خلکو ته ډېره ریښتیني کړه. ماتیو براډي او همکاران یې د جګړو ډګرونه ته ووتل او هغه څه یې ثبت کړل چې ویې لیدل. براډي د لینکلن عکس هم څو وارې اخیستی دئ.







**د لینکُلن کورنۍ د ۱۸۵۳ م کال شاوخوا**

د ایالت په مقننه هیات کې تر شپږو کالو وروسته؛ په ۱۸۴۱ کال کې لینکُلن پریکړه وکړه چې د یو ارزښتناکه او لوی کار د ترسره کولو وخت دی، غوښتل یې چې د ویگز له ډلې څخه د امریکا د استازو کور ته ځان کاندید کړي خو دغه حزب کوم بل کس کاندید کړ. بیا یې هم زیاته هڅه وکړه تر څو خپل رقیب بریالی کړي، ده فکر کولو چې دغه کار به یې بل وار ته په

انتخاب کې ورسره مرسته وکړي. پلان يې کار وکړ، په ۱۸۴٦ کال کې لینکُلن د ايلينوی ايالت څخه نماينده وټاکل شو. په واشنګټن کې يوه کرايي کور ته ورکډه شو. لینکُلن اوس د خپل ايالت په موضوعاتو خبرې نه کولې بلکې د ټول هيواد پر موضوعاتو به يې فکر کولو. ميري او ماشومانو يې له ده سره راغلل، دا چې ماشومانو به يې بد اخلاقي کوله نو مجبور شو چې ليرې يې وليږي ځکه لینکُلن وخت نه درلود چې دوی سم کړي. ډېر مصروف و او تقريباً هېڅکله يې د کانګريس کومه غونډه نه ده پريښې، په کميټو به يې کار کاوه، ويناوې به يې جوړولې خو کوم مهم او د پام وړ کار يې نه و کړی ځکه خو د چا ورته پام نه و شوی. د خپلې دوه کلنې دندې په پای کې کور ته راستون شو او داسې احساس يې کاوه چې په هيواد يې د ځان کومه نښه نه کړه جوړه. راتلونکي شپږ کلونه يې په سپرينګ فيلډ کې بيرته د حقوقو پر تمرين تمرکز وکړ او اخير يې دا پريکړه وکړه چې د قانون او حقوقو لپاره ندی جوړ.

## ۴ـ څلورم  څپرکی ـ غوره مناظره کوونکی


هغه څه چې لینکُلن یې بیرته سیاست ته راوست د کانساس ـ نیبراسکا د ۱۸۵۴ کال پیښه وه. د زیات وخت لپاره امریکایانو د غلامۍ په هکله بحثونه کول، ایا دا باید قانوني شي؟ که شي نو چیرته؟ په ۱۸۲۰ کال کې میسوري په ایالت بدل شو، غلامي هلته قانوني وه. کانګریس دا پریکړه کړي وه چې غلامي چې څومره شمال ته تلای شي باید لاړه شي. د میسوري د شمالي بندر په هره سیمه کې چې وي؛ غلامۍ ته به اجازه ورنه کړل شي. په ۱۸۵۴ کال کې بیا کانګریس خپله پریکړه بیرته واخیسته، کانساس ـ نیبراسکا قلمرو هغه ځای و چې غلامي هلته محدودیده؛ کانګرس بیا وویل چې که چیرته دغه دوه جدا ایالتونه شي نو خلک به یې د غلامۍ په هکله پریکړه وکړي. که غوښتل یې قانوني به یې کړي. ابالیشونیستان ـ هغه خلک چې د مریتوب پر ضد دي هغوی داسې فکر کولو چې ایا کانګرس به خپله وعده ماته کړي؟. دوی د کانساس ـ نیبراسکا پریکړې څخه کرکه لرله.



لینکُلن هم همداسې وکړل، که څه هم دی ابالیشونیسټ نه و خو له غلامۍ څخه یې کرکه لرله او غوښتل یې چې پای ومومي؛ خو فکر یې کولو چې اساسي قانون داسې وایي چې غلامي په امریکا کې قانوني ده. دی ویریده چې کچیرې کانګریس هڅه وکړي چې د مریيانو مالکان مجبور کړي تر څو مریيان خوشي کړي، نو یو ناورین به رامنځته شي. که څه هم غلامي دې ده د ارزښتونو خلاف وه، خو بیا یې هم د مریيانو د مالکانو د حقوقو پلوي کوله. لینکُلن فکر وکړ چې غلامي باید په بله لار پای ته ورسیږي، فکر یې کولو چې غلامي باید د امریکا په هغو برخو کې پریښودل شي کوم چې له وړاندې پکې قانوني وه؛ خو نویو قلمرونو ته باید پرینښودل شي چې په وخت سره به غلامي ختمه شي. خلک به راشي او وبه ویني چې غلامي د هیواد لپاره بده وه او دوی به دا هیله لري چې پرته له جنګه ختمه شي. لینکُلن ته د کانساس ـ نیبراسکا پیښه په غلط لوري یو غلط قدم و، کانګریس د هیواد یوه لویه اندازه نوي ساحې د غلامۍ لپاره پرانیستلې. له همدې امله لینکُلن سیاست ته بیرته راغی. د کانساس ـ نیبراسکا پیښې مسؤول شخص د ایلینوی ایالت سناتور سټیفن ډاګلاس و، لینکُلن او ډاګلاس هغه وخت چې د مقننه هیات غړي ول او د هغې راوروسته د کلونو لپاره رقیبان پاتې شول.

## ابالیشونیستان

هغه مهال چې د امریکا قلمرونه د برتانیې په کنترول کې ول؛ د غلامۍ ضد پاڅونونه پیل شول، تر ۱۸۰۴ کال پورې په ټولو شمالي ایالتونو کې غلامي غیر قانوني وګرځول شوه. په ۱۸۳۰ مه او څلویښتمه لسیزه کې د ابالیشونیستانو یو فعال نهضت په امریکا کې پیدا شو، دغو خلکو باور درلود چې غلامي شیطاني عمل دی او باید په هر ځای کې په مکمل ډول غیرقانوني وګرځول شي. زیاتو خلکو په دې اړه مقالې ولیکلې او پر حکومت یې د ریفورم لپاره فشار راوړ، ځینې یې تر ځمکې لاندې ریل سړکونو او پټو شبکو کې فعال ول تر څو له غلامانو سره په ازادۍ کې مرسته وکړي. هر څوک هم چې  د غلامۍ پر ضد و، ابالیشونیسټ نه بلل کیدو؛ ځکه ځینې خلک ویریدل چې ابالیشونیستان خطرناک دي او دوی لوی بدلونونه ډېر ژر راوستل غواړي. تر ټولو سخت ابالیشونیسټ جان براون و، ده غوښتل چې د غلامانو د خلاصون لپاره یوه وسلواله مبارزه پیل کړي خو ونیول شو او په دار وځړول شو.






**ستيفن ډاګلاس**

ډاګلاس مشهور شوی و او لینکُلن تر اوسه هم چا نه پیژندلو؛ خو لینکُلن اوس خوشحال و تر ځو دی وننګوي. ډاګلاس یوه تنظیم شوي مناظره ونه منله؛ لینکُلن دی په سپرینګ فیلد کې یوې ازادې مناظرې ته راوبللو. ډاګلاس د کانساس ـ نیبراسکا له پریکړې پلوي کوله، ویې ویل چې« خلک دا حق لري چې ددې پریکړه ونیسي تر څو څنګه اداره شي؛ دا دا معنا لري چې د هر ایالت وګړي باید ددې پریکړې نیولو توان ولري چې غلامۍ ته اجازه ورکړي که نه!» کله چې ډاګلاس خپلې خبرې پای ته ورسولې، لینکُلن خلکو ته وویل چې «سبا به زه دا واضح کړم چې ډاګلاس ولې غلط دی.» په دا بله ورځ زیاته اندازه خلک راټول شوي ول، لینکُلن د درو ساعتو لپاره وغږید. هغه وویل « د ډاګلاس خبرې هغه وخت مفهوم افاده کولای شي چې تورو پوستو ته د خلکو په سترګه ونه کتل شي، زه فکر کوم چې تور پوستي باید د سپین پوستیو په شان د خپل ژوند د پریکړې نیولو توان ولري. امریکا په دې عقیده پیدا شوي ده چې ( یو سړی هیڅکله د دې وړ ندی چې بل سړی اداره کړي پرته د لومړي یو له رضایت

څخه) هیڅ فرق نه کوي چې سړی څه ډول رنګ لري»



## د ډرېډ سکاټ پرېکړه


د کانساس ـ نیبراسکا پیښه یواځینی څه نه و چې لینکلن یې پدې ویراوه چې هیواد په غلطه لار روان دی، په ۱۸۵۷ کال کې سترې محکمې د ډرید سکاټ د قضیې په هکله پریکړه ونیوله. سکاټ یو غلام و چې د خپل بادار پواسطه ایلینوس ایالت او د ویسکانسن قلمرو ته راوړل شوی و، پدې دواړو ځایونو کې غلامي غیر قانوني وه. سکاټ ویل چې دا، دا معنا لري چې ازاد یم. محکمې د ده پر خلاف پریکړه وکړه؛ دوی وویل چې که چیرې یو غلام په قانوني ډول راوړل شي نو بیا هم غلام دی، هېڅ فرق نه کوي چې چیرته و. د خپلې پریکړې د واضح کولو پر مهال یوه قاضي ولیکل چې « هغه تور پوستي چې سپین پوستو ته په احترام قایل ول؛ هېڅ حقوق نه لري......!



**ډرېډ سکاټ**


د لينکُلن مناظرې دی مشهور کړ. په ۱۸۵۴ کال کې یې پریکړه وکړه چې سناء ته ځان کاندید کړي، ډېر نږدې شو خو بریالی نه شو. په همدې وخت کې د ورځو مهم موضوعات د پخوانیو سیاسي حزبونو ماتیدل ول، همداسې نور دیر مهم موضوعات ول خو غلامي د هر چا په ماغزو کې ځای نیولی ؤ. زیاتو دیموکراتانو خپل حزبونه د کانساس ـ نیبراسکا پیښې ته په غوسه والي پریښول، ویگزان  هم د غلامۍ د موضوع له کبله سره وویشل شول، لینکُلن هم نور مطمن نه و چې دلته به ځای شي. یو نوی گوند پیدا شو تر څو د غلامۍ پر خلاف مقابله وکړي، غړیو یې ځان ته د جمهوریت غوښتونکو خطاب کاوه. لینکُلن خپل ټول عمر یو وفاداره ویگز پاتې شوی و خو اوس په دغه نوي ډله کې رهبر اعلان شو. د دغې ډلې لومړۍ انتخاباتي مشر گرځندوی او  نظامي رهبر جان فرې مونټ و. لینکُلن د مرستیال مشر په توگه تقریباً ټاکل شوی و خو نشو. په هر صورت فرې مونټ وبایلله او جیمز بوکانان چا چې د غلامی ملاتړ کولو؛ مشر شو. لینکُلن بې جرءتي او ماته نه منله؛ ډاگلاس یې په سناء کې د خپلې چوکۍ پرسر وننگولو. د ایلینوی جمهوریت غوښتونکو دای د رایو پر اتفاق کاندید کړلو. د دفاع وینا یې د بابل د یوه نقل څخه جوړه وه. دا د ده د خوښو له جملو څخه یوه وه « هغه کور چې د ځان پر خلاف ویشل شوی وي، پر خپلو پښو نشي دریدای» ده ویل: امریکا متحده ایالات د نیم ازاد او نیم غلام په شکل دوام نشي ورکولای؛ یا به غلامي ختمیږي، یا به ټول هیواد نیسي او یا به هیواد ویجاړیږي.

## جیمز بوکانان



## ۵ـ پنځم ځپرکی ـ ښاغلی ولسمشر.!


**یــو** ځــل بیــا لیــنکُلن لــه ډاګــلاس څخــه وغوښــتل چــې لــه ده سره مباحثــه وکــړي او ډاګــلاس هــم مجبــور و چــې ویــې منــي. پــه ۱۵۵۸ کــال کــې د ایلینــوی پــه مختلفــو ښــارونو کــې مختلفــې منــاظرې تــرسره شــوې، مهمــه موضــوع یــې غلامــي وه. د ګاونــډیو ایــالتونو پــه خلــک د غــوږ نیولــو لپــاره رابهیــدل؛ ټــول هیــواد د لیــنکُلن او ډاګــلاس منــاظرې د ورځپــاڼو لــه لارې څــارلې، خبریــالانو بــه د هــر یــوه هــره خــبره لیکلــه. ډاګــلاس او لیــنکُلن بــه خنــدا لرونکــي منــاظره جوړولــه. ډاګــلاس لنــډی، ګــرد او بــا وقــاره شــخص و، لقــب یــې کــوچنی دیــب (دیــو) و ځکــه باذوقــه کــالي بــه یــې اغوســتل او ښــه ژور غــږ یــې درلــود. لیــنکُلن جــګ، ډنګــر او لــږ څــه وارخطــا غونــډې و. تــر اوســه یــې هــم د بزګرانــو پــه څیــر کــالي اغوســتل، لــوړ او نــری غــږ یــې درلــود. ډاګــلاس بــه پــه خپلــه شخصيــ بګــۍ کــې منــاظرو تــه راتلــو؛ لیــنکُلن بیــا د نــورو سره یــو ځــای پــه ریــل ګــاډي کــې پــه خــبرو او ټوکــو منــاظرو تــه راتلــو، خــو دواړه بامهارتــه وینــاوال ول.



خلـــک د منـــاظرو د پـــایلو پـــه هکلـــه چـــې چـــا وګټلـــې؛ سره همغـــږي نـــه ول او لیـــنکُلن بیـــا د ســـناء مجلـــس انتخابـــات وبایلـــل خـــو ډېـــر مشـــهور شـــو. نیویـــارک تـــه د غلامـــۍ پـــه هکلـــه یـــوه لیکچـــر تـــه وبلـــل شـــو، پـــه خپلـــه ســـاده، مینـــه‌ناکـــه او منطقـــي وینـــا یـــې زیـــات شـــمیر خلـــک ترلاســـه کـــړل. دا یـــې پـــه شـــمالي ســـاحل کـــې هغـــه ځـــای چـــې د امریکـــا د ســـیاسي قـــوت مرکـــز ګڼـــل کیـــږي؛ عوامـــو تـــه لـــومړۍ ځرګندیدنـــه وه. کلـــه چـــې لیـــنکُلن ځـــان تـــه پـــر نـــوم جوړولـــو مصرـــوف و، هیـــواد د یـــوه نـــاورین خواتـــه روان و. جنـــوبي ایـــالتونو پـــدې خـــبرې کـــولې چـــې امریکـــا پریـــږدي او ځـــان تـــه یـــو بیـــل هیـــواد جـــوړ کـــړي. ولسمشرـ بوکانـــان یـــو کمـــزورۍ رهـــبر و چـــې پـــدې هـــم نـــه پوهیـــدو تـــر څـــو څنګـــه جنـــوب کنـــترول کـــړي،


حتـی د خپلـې ډلـې ملاتـړ یـې هـم ونـه کړلـو. پـه ۱۹٦۰ کـال کـې د دیموکراتــانو ګونــد پــر دې نــه پوهیــدو چــې د ولسمشرــۍ لپــاره د چــا ملاتــړ وکــړي، دوی د

**د تور پوستو په هکله د لینکلن نظر**



**که څه هم لینکلن نه غوښتل چې تور پوستي دې غلامان شي، خو د دوی لپاره یې مکمل برابری هم نه غوښت. ده فکر نه کولو چې دغه دوې سیالۍ به یوځای په ارامۍ سره واوسیږي، نو ځکه یې دا نظر ورکړ چې ازاد شوي غلامان دې یوه بل قلمرو ته ولیږي. کلونه یې ونیول چې پر دې پوه شي چې تور پوستي نه غواړي کوم نوي هیواد ته ولاړ شي؛ دوی په خپل هیواد کې خپل حقوق غوښتل. دا صحیح ده چې لینکلن ډیر تور پوستي خلک نه پیژندل خو کله چې کورنۍ جګړې دی ورنیږدې کړ، نو د دوی په هکله یې نظر بدل شو. د ۱۸٦۴کال، د نوي کال ورځې میلمستیا چې لینکلن جوړه کړې وه؛ یوازینۍ واقعه وه چې تور پوستي پکې د سپینې ماڼۍ میلمانه ول.**

ستيفن ډاګلاس او يو بل کانديد تر منځ وويشل شول.





جموريت غوښتونکي ډلې لينکُلن د ولسمشرۍ لپاره کانديد کړ؛ ده ته يې (ريل کانديد) ويلو ځکه چې د ماشوتوب په وخت کې يې د ريل سړک د جوړيدو په کار کې برخه اخيستي وه. دغه نوم خلکو ته لينکُلن يو عادي، سخت کارکوونکی او د دوی په شان يو سړی ښود، لږ کمپاين يې وکړ او که ربښتيا شي د بري تمه يې هم نلرله. د انتخاباتو په شپه لينکُلن او څو جمهوريت غوښتونکي ملګري يې د ايالت مرکز ته ولاړل، هلته به د تيليګراف په واسطه د انتخاباتو خبرونه راتلل. د سهار په دوو بجو نتيجه يقيني وه ځکه د ديموکراتانو ډله په دوو برخو ويشل شوي وه او لينکُلن د نورو کانديدانو په پرتله ډېرې رايې وړې وې. ميري ډېره حيرانه شوي وه ځکه تل يې غوښتل چې د يوه ولسمشر ميرمن واوسي خو لينکُلن خوب نشو کولای. ده وروسته وويل: ددې مسوؤليت له کبله مې داسې احساس درلود چې وړاندې مې هېڅ نه لرلو. هغه يو غير احتمالي ولسمشر و، فقط يو کال ښوونځی يې لوستی و. په ملي حکومت کې يې تقريباً هيڅ تجربه نه لرله، د جګړې اتل هم نه وو، خپل ټول ژوند يې مخ پر وده ايالتونو کې تير کړی و، د سناء

انتخاباتو کې يې هر ځل ماته خوړلي وه او اوس يو ناڅاپه د امريکا شپاړسم ولسمشر وټاکل شو.





د کمپاين په وخت کې يې د گريس په نامه يوې يوولس کلنې جلۍ، لينکُلن ته ليکلي ول چې که چيرې دې ږيره لرلای نو ولسمشر ته به ډېر ورته شوی وای..





اوس چې ولسمشر شو نو ږیره یې پرېښوده.

## ٦ـ شپږم څپرکی ـ کورنۍ جګړه





واک تر رسیدو وړاندې لینکُلن په ستونزو کې و، د غلامو ایالتونو اوسیدونکو له ده کرکه لرله او تقریباً په جنوب کې یوه هم ده ته رایه نه وه اچولي. څرنګه چې د لینکُلن د ولسمشرۍ خبر دې سیمو ته راورسید، اووه ایالتونه له اتحادیې څخه جدا شول؛ ویې ویل چې نور د متحده ایالاتو برخې نه دي او لینکُلن یې هم ولسمشر نه دی. ډېر ژر څلور نور ایالتونه هم له دوی سره یو ځای شول. خپل نوي هیواد ته یې د امریکا متفق شوي (کانفدرال) ایالات وویل او جیفرسن ډیویس یې د خپل ولسمشر په توګه وټاکه.




**جیفیرسن ډیویس**

لینکُلن د افتتاح  لنډه وینا زیات شمیر خلکو ته چې د ملي شورا ماڼۍ تر مخه راغونډ شوي ول، وکړه. خلکو ته یې وویل چې ملت ته به په هېڅ صورت اجازه ورنه کړي چې په دوو برخو وویشل شي. د غلامۍ په هکله یې له خبرو کولو ډډه وکړه ځکه یو خاص دلیل یې درلود، څلور ایالتونه چې هلته غلامي قانوني وه – دلاور، ماري لانډ، کینټاکي او میسوري – تر اوسه یې اتحادیه نه وه پرېښې او لینکُلن نه غوښتل چې دغه ایالتونه هم غوسه او له لاسه ورکړي. د لینکُلن د هیلو وراخوا هیواد په دوو برخو وویشل شو. یوه میاشت وروسته د ۱۸۶۱ م کال د اپریل پر ۱۲مه، د جنوبي کارولینا په سامتر قلعه کې جنوبي سرتیرو په متحده سرتیرو ډزې وکړې او له دې سره کورنۍ جګړه پیل شوه.




### فریدریک ډاګلاس

**فریدریک ډاګلاس یو غلام و چې په ځوانۍ کې وتښتید، یو الهام بخشه استاد او لیکوال ترې جوړ شو. ډاګلاس په ازادۍ او د ټولو لپاره په یوشان حقوقو باور درلود چې پدې کې ښځې هم شاملې وې. ده باور درلود چې لینکلن د غلامۍ د ختمولو په هکله ډیر محتاط دی. د ازادۍ د اعلامیې وروسته ډاګلاس د ولسمشر په هکله غوره فکر کول پیل کړل، کله یې چې سره ولیدل نو بیخي زیات یې خوښ شو. ډاګلاس بیا وویل: لینکلن د رنګ د بدلون سربیره ماسره داسې چلند وکړ لکه څنګه یې چې له نورو سره کوي.**



له اتیا څخه زیات کلونه وړاندې امریکایي قلمرونه؛ جنوب او شمال، سره یوځای شوي ول چې انګلستان ته ماتې ورکړي او یو نوی هیواد جوړ شي، اوس به امریکایان له امریکایانو سره جګړه کوي. کورنۍ وویشل شوې حتی د لینکُلن خپله کورنۍ هم وویشل شوه. ښځې یې میري

په جنوب کې چې د غلامانو ځای و، خپلوان لرل او د شمال سره به یې جګړه کوله.




لینکُلن د جګړې لپاره د رضاکارانو په پیدا کولو کې کوم مشکل نه لرل، په شمال کې خلکو د جنګ ملاتړ کولو او هر یوه دا فکر کاوه چې ژر به پای مومي. لینکُلن پدې باور و چې د جګړې کولو لپاره ولسمشر د سولهیز وخت په نسبت زیات ځواک ته اړتیا لري. د ځیني کارونو په ترسره کولو کې ولسمشر ته لازمه ده چې له کانګریسه اجازه واخلي خو لینکُلن وړاندې ولاړ او ترسره یې کړل. هغه دادي چې – پوځ یې برابر کړ او پیسې یې په وسلو ورکړې، د اساسي قانون په واسطه راغلي ازادي یې محدوده کړه، هغه وویل چې هغه خلک چا چې د جګړې ویره خپره کړي، پرته له محکمې به یې زندان ته ولیږم او ددې ویلو ته به یې هم پرېنږدم چې جرم یې څه و؛ ځکه دا جګړه ډېره مشهوره وه. کانګریس هم لینکُلن ته اجازه ورکړه تر څو سابه یې ور په مالګه کړي.

جګړه ژر ختمه نه شوه، دواړو خواوو ته په خونړیو جګړو کې سرتیري مړه شول خو هېڅ هم ترلاسه نه شول. د لینکُلن پوځ داسې برېښېدو چې د جګړې ګټلو لپاره کوم پلان نه لري. خلک


په دې تعجب واخيستل چې لينکُلن جګړه رهبري کوي او ولسمشر د پوځ سر اعلی قومندان دی؛ خو لينکُلن هېڅکله هم کومه جګړه ونه کړه، فقط دا يې غوښتل چې ځان ته د جګړې ګټلو درس ورکړي. تر هغې چې دا کار کوي نو مجبور دی چې پخپلو جنرالانو تکيه وکړي او مشوره ورڅخه واخلي او بدبختانه چې ځينې جنرالان يې چندان پرزې نه وې. لينکُلن يوه پوځ ته ضرورت لرلو او اوس چې څوک ورسره ول يوازې يوه ډله بې تجربه رضاکاران ول، د دوی په ريښتيني سرتيرو بدلولو لپاره يې جنرال جورج . بي . مکزاليلان انتخاب کړ.



**جنرال جورج . بي . مکزاليلان**

په ځينو اړخونو کې دا ډېره هوښياره پريکړه وه، دی منظم او جزييات يې باوري ول. سرتيرو په ده هم د ځان روزلو لپاره باور درلود، خو بدبختانه چې دی په حقيقي جګړو کې ښه نه وو. ډېر محتاطه و، په کانفدرالي ځواکونو باندې به يې بريدونه پرله پسې ردول. دی ويريدو چې پوځ يې نه دی تيار او کانفدرال ځواکونه ډېر غښتلي دي. د جګړې د ګټلو فرصتونه يې وبايلل، لينکُلن اخير هم بې حوصلې شو او ويې ويل: که جنرال مکزاليلان نه غواړي پوځ وکاروي نو

زه به یې د یوه څه وخت لپاره ورڅخه قرض کړم.




**سپینه ماڼۍ**

کله چې لینکُلن د ولسمشرۍ کارونه پر مخ وړل، کورنۍ یې نوي کور (سپینه ماڼۍ) ته د تلو تابیا نیوله. سپینه ماڼۍ له هر هغه ځای څخه چې دوی وړاندې پکې اوسیدلي ول ښایسته وه، خو خیرنه او زړه شوي وه. کانگریس میري ته څه پیسې ورکړې تر څو جوړه یې کړي، دي هم ماڼۍ ډېره ظریفه او ښایسته کړه خو ډېرې پیسې یې پرې مصرف کړې. لینکُلن وړاندې هم خپلې میرمنې ته حوصله تقریباً بایللي وه خو دا وار یې وبایلله او پرې غوسه شو. ده له کانگریسه پیسې غوښتې تر څو سرتیرو ته جامې او کمپلې پرې برابرې کړي او په عین وخت کې یې میرمنې هم د چټیاتو لپاره پیسې غوښتي وې، میرمنې ته یې وویل چې دا کارونه دې بس کړه.



د لینکُلن مشر زوی لیرې په کالج کې په زده کړو بوخت و، خو لس کلن زوی یې ویلي او اته کلن زوی ټاډ یې په واشنګټن کې ښه په مزو کې ول.



دوی په سپینه ماڼۍ کې د هغې ځای ساتونکو سره ملګرتیاوې جوړې کړې، د چت په سر باندې یې د ماشومانو د لوبو توپونه برابر کړل او په ځو میله لیرې کانفدرالي ځواکونو باندې به یې ډزې کولې.



د ماشومانو لپاره غیر عادي وه چې په سپینه ماڼۍ کې دې واوسیږي. د لینکُلن څخه وړاندې ولسمشرانو یوازې ماشومان لوی کړي ول، خو د لینکُلن ماشومان بیا د ټول هیواد پر خلکو ګران وو. خلکو به دوی ته ډالۍ ورلیږلې چې ډېری به یې اهلي حیوانات ول. دوی یو کوچنۍ اس او دوې وزې درلودې چې شاوخوا به یې منډې وهلې او د سپینې ماڼۍ باغونه به یې خرابول، کله وار به وزې کور ته هم ننوتې، یو وار تاډ له څوکۍ سره په یوې وزې پسې وروښوید وزې هم دی په ځان پسې کش او د یوې ښایسته میلمستیا تر منځ یې تیر کړ.



لینکُلن او میري هېڅکله خپل ماشـــومان نه رټل او نه به یې دا هڅه کوله چې دوی بااخلاقه کړي، دوی ته اجازه وه چې د ولسمشر دفتر ګډوډ کړي او ورننوزي، فرق یې نه کاوه چې هلته به څوک ول. کله وار به لینکُلن د جنرالانو سره پداســـې حال کې خبرې کولې چې یو زوی به یې په څوکۍ دې ده متو ته ورپورته کیدو، کله وار به یې په ځمکه خوب کاوه او د ولسمشرۍ پـټـو رازونـو تـه بـه یـې بـې پـامـه غـوږ نـیـولـی و.



دغو هلکانو یو عسکري نانځکه لرله چې نوم یې جاک و، یوه ورځ یې پریکړه وکړه چې جک باید سزا ووینې ځکه د ګارد په دنده کې یې غفلت کړئ، دوی جاک په مرګ محکوم کړ. دوی بیا خپل پلار ته چې په یوه مهمه غونډه کې مصروف و، ورغلل او ورڅخه ویې غوښتل چې جاک وبښي؛ لینلکن د دوی موضوع ته ډېر په دقت سره غوږ نیولای و او بیا یې سپینې مانۍ ته د جاک د بښنې لپاره یو رسمي لیک ولیږه.



له دې وروسته ټاډ لینکُلن دې ته راضي کړ چې هغه فلمرغ کوم چې د کریسمس د مابښامنۍ لپاره ساتل شوی و، ازاد کړي. ټاډ غوښتل چې دی د یوه اهلي حیوان په توګه له ځان سره وساتي، هغې ته یې هم د جاک نوم ورکړ. لینکُلن به په دغو مزاحمتونو نه خفه کیدو ځکه د دغه خطرناک جنګ تر منځ او د خپلو اندیښنو له لاسه یې دې ته ضرورت لرلو ترڅو ټاډ او ویلي یې وخندوي. د لینکُلن زامن یوازې څوک نه ول چې ده ته به یې مزاحمت کاوه بلکې هر هغه څوک چې د باندې به یې زیات انتظار کاوه دفتر ته به رابلل کیدو. زیات خلک به د دې لپاره راتلل تر څو د دوی غوښتنې ومني لکه: دوی غوښتل چې لینکُلن دې دوی ته دولتي دنده

ورکړي. ځيني وخت به دغه خلک دومره ډېر شول چې زينې به په مکمل ډول بندې وې.




پدې کې تر ټولو دردونکي غوښتنې هغه وې چې د سرتيرو ميرمنو او ميندو به د دوی د بښلو لپاره کولې؛ ځکه دغه سرتيري به په جګړه کې د نامردۍ او غفلت له امله په مرګ محکوم شوي ول. لينکُلن به تل هڅه کوله چې دغه غوښتنې ومني، دی پدې پوهيدو چې سړی زړور وي خو ويريدونکي پېښې يې مجبوروي چې له جګړې وتښتي. د لينکُلن ورين تنديتوب له عادي خلکو سره ده ته دا ګټه وکړه چې دا خلک ده ته وفادار واوسيږي خصوصاً هغه وخت چې جنګ

نه ختمیدونکی معلومیدو، دوی لینکُلن ته د (ابراهام پلاره) ویل.




د لینکُلن غمشریکي د نورو والدینو سره د خپل زوی د مړینې له کبله غښتلي شوي وه، په ۱۸۶۲ کال کې یوولس کلن ویلي لینکُلن د ټایپایډ تبې له امله مړ شو چې د مور اوپلار لپاره یې دا ډېره سخته تمامه شوه. په ټولو کې زامنو کې یې ویلي پلار ته ډېر ورته و. د ویلي له مرگ وروسته میري ډېره غمجنه شوه او پدې یې باور نه کاوه چې دی دې رښتیا مړ وي. د ارواحو حاضرولو لپاره یې د جلسو په نیولو پیل وکړ، دا هیله یې درلوده چې پدې کار سره به یې د دوو

مړو شویو زامنو ـ کوچنی ایډي او ویلي ـ د ارواوو سره لیدنه وشي.



په واشنګټن کې زیاتو خلکو میري نه خوښوله، دوی فکر کاوه چې دي ځان ښودنه کوي. خلکو به د دي په هکله اوازې خپرولې، بعضو به حتی دا ویل چې دي د کانفدرالانو (متفقینو) جاسوسه ده؛ ځکه د دي وروڼه او خویندې د جنوب په طرف ول او هلته اوسیدل. دا اوازې په مکمل ډول نا مناسبې وې، میري که څه هم بیهوده او ازار ورکونکي وه خو خپل خاوند او اتحادیې ته وفاداره وه، هر څوک چې د لینکُلن دوښمن و د دي دوښمن هم و حتی خپل وروڼه یې هم. دي بې مینې وه او بعضې خلکو به ویل چې د ویلي مرګ شاید دي د عامو پر وړاندې له خپل توند دریځ او بې میلۍ څخه وګرځوي.



دمیري هومره لینکُلن هم د ویلي په مرګ باندې زړه ماتی شوی و، کله وار به په کوټه کې پټ شو او په ارامه فضا کې به یې اوښکې توی کړې؛ خو له هماغې لومړۍ ورځې راوروسته هېڅکله د عوامو تر مخه زړه ماتی نه شو.


## ۷- اووم څپرکی - د غلامۍ پای

د جګړې دویم کال هم ختمیدو ته نږدې و، له سلو څخه زیات جنګونه ترسره شوي و او په زرګونه سړي زخمیان او وژل شوي ول، خو تراوسه هېڅ یوه لوري نه وه ګټلي.



په شمال کې د پوځ لپاره د رضاکارو سرتیرو پیدا کول سخت شول او حکومت هم نورې پیسې نه لرلې چې د جګړې لپاره یې ورکړي. جنوب له دې امله جدا شوی و چې غلامۍ ته دوام ورکړي خو تر دې مهاله لینکُلن د غلامۍ سره په مستقیم ډول معامله نه وه منلي، اوس یوه

شوی و چې له له دې پيښو سره بايد مخ شي. اباليشونيستانو د جګړې ملاتړ کولو ځکه دوی فکر کولو چې جګړه به غلامي پای ته ورسوي، دوی له لينکُلن غوښتل چې غلامي دې د ټولو لپار غير قانوني وګرځوي خو په شمال کې د دغې نظريې په هکله هم اختلافات موجود ول. لينکُلن ويريدو چې که داسې وکړي نو دا ملاتړ به هم له لاسه ورکړي ځکه خو يې دوه زړي توب کاوه. دی په دې نه و باوري چې ولسمشر دې دومره صلاحيت ولري چې غلامي غير قانوني وګرځوي، ده قسم کړی و چې د امريکا قانون ته به ژمن پاتې کيږي له همدې امله په جنوب کې غلامي قانوني وه. ولسمشر په يوازې ځان نشول کولای چې قانون بدل رابدل کړي، دا د خلکو د غوښتنې پر اساس کيدل او يوازې د امريکا خلکو کولای شول چې د دغه هيواد په اساسي قانون کې تغير راولي. په اخير کې د لينکُلن ذهن ته يوه لار راغله چې هم صحيح وه او د قانوني لحاظه هم کوم مشکل نه ول؛ په جګړه کې مشغول هيواد کولای شول چې د خپل دوښمن هغه شتمني چې د جګړې کولو لپاره يې مصرفوي، ضبط کړي. جنوب ايالتونو غلامان په مختلفو لارو استعمالول او دې د جګړې په ګرم ساتلو کې ورسره مرسته کړي وه، لينکُلن پريکړه وکړه چې دا کار به پلمه کړو او په ياغي شوي ايالتونو کې به غلامان د خپلو مالکانو څخه جدا کړو.




کانگرس د غلامۍ د ختمولو لپاره د نویو قوانینو صادرول پیل کړل؛ هغه غلامان چې د یاغي شویو مالکانو څخه به تښتیدلي ول او بیا به د متحدو سرتیرو لخوا نیول شوي ول، بیرته به خپلو مالکانو ته نه ورسپارل کیدل بلکې ازادیدل به. لینکُلن پریکړه وکړه چې لږ نور هم وړاندې ولاړ شي، ورو او په خپله یې د ازادۍ اعلامیه ولیکله. دغې اعلامیې ټول غلامان نه ازادول، دا د جګړې یو تکتیک و او یوازې په کانفدرال(متفق) ایالتونو عملي کیدو. په یاغي شویو ایالتونو کې به ټول غلامان د تل لپاره ازادیږي خو په دلاور، ماري لانډ، کینټاکي او میسوري کې به غلامي په هماغه قانوني حالت کې پاتې وي ځکه دا د اتحادیې سره پاتې شوي ول. لینکُلن پدې باوري چې که یو وار هیواد سره بیرته متحد شي نو دا بیا ممکنه ده چې په ټول هیواد کې

دې غلامي پای ته ورسول شي؛ خو دا کار هم باید کانګریس کړی وای ځکه د یوه ولسمشر په حیث د ده کار د یاغی شویو ایالتونو پر وړاندې اقدام کول وو. د اتحادیانو تر جنګ ګټلو پورې هېڅ داسې لار نه وه چې د ازادۍ اعلامیه دې فسخه شي ځکه دغې اعلامیې جنوب والو ته ویل چې خپل غلامان ازاد کړئ، دې دا معنا نه ورکوله چې دوی به دا کار وکړي او لینکُلن هم پدې پوهیدو. ده ویل چې داسې احساس کوم لکه کوم څوک چې غواړي یوه لکۍ لرونکي ستوري ته قانون جوړ کړي او دده کړه وړه وربدل کړي، خو اوس يې دا واضحه کړه چې د اتحادیې پلان د ټولو د ښیګڼې لپاره د غلامۍ ختمول دي. کله چې لینکُلن خپلې کابینې سره خبرې کولې نو ورته ویې ویل چې ستاسې مشوره نه غواړم، ما په خپلو ماغزو کې یوه جوړه کړې.



دغې کار د ۱۸٦٣ کال د جنورې په لومړۍ نیټه عملي شو. په جنوب کې غلامانو خبرونه واوریدل او سمدلاسه زیات شمیر یې وتښتیدل او شمال ته ولاړل. د اتحادیې پوځ د تور پوستیو سرتیرو د منظمولو چارې پیل کړې، یوه ازاد سړي به د خپلو پخوانیو مشرانو سره جګړه کوله. د جنګ تر ختمیدو پورې دوه لکه توریان د اتحادیې له پوځ سره یو ځای شول.




## ۸ ـ اتم څپرکی ـ دوې دقیقې وینا

بلاخره لینکُلن د خپل پوځ د مشرۍ لپاره یو زړور او کارپوه جنرال پیدا کړ: اولیس . ایس . ګرانټ. ګرانټ د جګړې کولو هیله لرله او وړاندې یې هم یو لړ مهمې بریاوې خپلې کړې وې لکه: د ویکسبرګ جنګ چې اتحادیې ته یې د میسیسیپي سیند کنترول په لاس کې ورکړ؛ ګرانت پدې پوهیدو چې یوازې کوچنۍ جګړې ګټل مکمله جګړه نه شي ګټلای، مهم شی د جنوب څخه د جنګ کولو توان اخیستل وو او ددې کار د ترسره کولو لپاره د اتحادیې پوځ ته ضروره وه چې په یو وخت کې پر زیاتو ځایونو یرغل وروړي.




دوی مجبور ول چې پرله پسې جګړې وکړي او دا يې ضرور ګڼله چې هغه ريل لارې او کارخانې چې کانفدرالي قواوې فعالې ساتي، بايد له منځه ولاړې شي. ګرانټ پلان درلود چې جنوب سترې او وويشي تر څو په اسانۍ سره تسليم شي، خو دې کار وخت او زرګونه زره نور مړي غوښتل.




لينکُلن به په ګرانټ زياته تکيه کول، له يوه ډېرې خونړۍ جګړې وروسته زياتو خلکو فکر کولو چې ګرانټ بايد وشړل شي خو لينکُلن وويل: زه دا سړی له لاسه نه شم ورکولی، دی جګړه کوي.



په شمال کې ډېر کم خلک دې ته راضي ول چې په رضا کاره توګه دې په پوځ کې دنده ترسره کړي، له همدې امله په ۱۸۶۳ م کال کې لینکُلن یو طرحه وړاندې کړه؛ د دامریکا په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره سړي مجبور کړل شو چې په پوځ کې شامل شي. په نیویارک کې ددغې


طرحې پر خلاف شورشونه وشول. سړیو به ویل چې موږ نه پوهیږو چې ولې د توریانو د ازادیدو لپاره وژل کیږو، زیات شمالي پلوه خلک له جګړې څخه ستړي شوي ول او ځینو یې دا هیله هم لرله چې یاغي شوي ایالتونه دې همداسې پرېښودل شي.



**د ګیټېسبرګ هدیره**

زیاتو خلکو لینکُلن ملامتاوه، ده دې واضح کولو ته ضرورت لرلو چې جنګ باید ولې تر دومره ترخه پایه ترسره شي خو ولسمشر به زیات کله په مستقیم ډول خلکو ته نه ویل. لینکُلن ته په پنسلوانیا کې د ګیټیسبرګ د هدیرې د تخصیصولو پر مهال د خبرو چانس ورغی، د ګیټېسبرګ جګړه د اتحادیې لپاره یوه لویه بریا وه. د اتحادیې عسکرو د یاغیانو شمال خواته پرمختګ مخه نیولي وه خو له درې زرو څخه ډېر د اتحادیې ځواکونه او له پنځو زرو څخه ډېر د متفقینو ځواکونه وژل شوي ول، ددې لپاره یې یوه خاصه هدیره جوړه کړای شوه تر څو ټول پکې خښ کړل شي. د دغه هدیرې افتتاح یا تخصیصول د ۱۸٦۳ کال د نومبر پر ۱۹ نیټه ترسره شول، که څه هم لینکُلن ولسمشر و، خو د غونډې مهم ویناوال نه و. د غونډې مرکزي ویناوال ایډوارډ


ایوریټ په نوم یو سړی و چې د اوږدو او ښکلیو ویناوو په کولو سره مشهور و. ایوریټ دوه ساعته وینا وکړه؛ لینکُلن یوازې دوه دقیقې وغږیدو، خبرې یې ساده او مستقیمې وې. وینا یې د ازادۍ د اعلانولو له یوې مقولې څخه پیل کړه: «ټول خلک یوشان یا مساوي جوړ شوي دي» خپلو خلکو ته یې دا وریاده کړه چې امریکا یوازینۍ هیواد دی چې د مساوات د نظریې پراساس پیدا شوی دی، په ۱۷۷٦ کال کې هېڅوک نه پوهیدو چې داسې هیواد دې پیدا شي خو اوس خلک حیرانیږي چې دا هیواد دوام کوي، نږدې وه چې هیواد په دوو برخو تقسیم شي خو لینکُلن د یاغیانو غوښتنو ته تسلیم نه شو، ځکه هیواد ژوندي پاتې کیدو ته ضرورت لرلو.




اتحاديې د دې لپاره جنګ کولو تر څو هیواد متحد پاتې شي؛ خو ددې ضمانت يې هم کولو چې« د خلکو حکومت، د خلکو پواسطه جوړ شوی او د خلکو لپاره دی او دا باید د ځمکې له مخه ورک نشي» د ځینو اوریدونکو په وینا د لینکُلن وینا پای ته په خاموشۍ سره ښه راغلاست وویل شو حتی دا چې  اوریدونکو د چکچکو لپاره لاسونه هم نه شول ښورولی. ایډوارډ ایوریټ وروسته ولیکل چې لینکُلن په دوو دقیقو کې د موضوع زړه ته ورسید او زما له مکملې وینا څخه دده وینا ښه وه، تاریخ هم له ایوریټ سره همنظری دی. د ګیټیسبرګ وینا له هغو ښکلو ویناوو څخه شمیرل کیږي چې کله هم وړاندې نه وه لیکل شوي، خو جګړه لا زرګونه ورځې وړاندې ولاړه او تر اوسه هم کوم پای نه تر سترګو کیدو.

## ۹) نهم څپرکی ـ جګړه وګټل شوه


په ۱۸٦۴ کال کې د لینکُلن لومړی دور ولسمشري پای ته نږدې وه، داسې ګڼل کیده چې په نومبر کې به انتخابات ترسره شي خو ایا دې امکان درلود چې د کورنۍ جګړې تر منځ دې انتخابات ترسره شي؟ د لینکُلن مشاورینو ده ته مشوره ورکړه چې د جنګ تر پایه دې پر واک پاته شي خو ده رد کړله او ویې ویل: موږ له انتخاباتو پرته حکومت نشو لرلای. که څه هم په یاغي شویو ایالتونو کې خلکو رایه نه اچوله خو برسیره یې کمپاین پیل شو. د لینکُلن سیال جیورج مکزالیلان و، هغه جنرال چې جګړه یې نه کوله. مکزالیلان دې ته اشاره کوله چې دی به یوه توافقنامه ترسره کړي تر څو جګړه پای ومومي. لینکُلن پدې نه و مطمن چې انتخابات به وګټي، زیات امریکایان له جګړې څخه تر سږمو راغلي ول او دوی دې ته تیار و چې هغه چاته رایه ورکړي کوم څوک چې جګړه زر ختموي، خو لینکُلن پدې پوهیدو چې سرتیري دده ملاتړ کوي نو ددې لپاره یې ځان پدې مطمین کړ چې سرتیري رایې اچولی شي.


ABRAHAM LINCOLN
ANDREW JOHNSON



له ټاکنو وړاندې اتحادیې څو لویې بریاوې خپلې کړې، جنرال ویلیام شرمن  چې د جنرال گرانټ پواسطه روزل شوی وو، اتلانتا ونیوله. جنرال فیلیپ شریدان هم گرانټ روزلی وو او په شنندووا دره کې یې یو لړ جگړې وگټلې، جنرال گرانټ پخپله د کانفدرال( متفقو) حکومت مرکز نیولو ته چې د ویرجینیا په ریچمونډ کې یې موقعیت درلود، نږدې وو.  دا چې خلکو د جگړې جذبه بیا ترمیم شوې ولیدله نو له همدې امله یې لینکُلن ته رایه ورکړه او د دویم ځل لپاره یې ولسمشر وټاکلو. د ۱۸٦۵ م کال په پیل کې د جگړې پای تر سترگو شو، د مارچ پر ۲۵ د گرانټ پوځیانو ریچمونډ ونیولو او بیا یې د کانفدرال (متفقو) قواوو د قومندان جنرال رابرټ لي ځواکونه کونج ته کړل او دایره یې پرې راتنگه کړه. دا چې لي نوره چاره نه لرله نو د اپریل پر ۹مه یې جنرال گرانټ ته د ویرجینیا په اپومتاکس کې خپل پوځ تسلیم کړ، له ټولو عملي اړخونو او موخو

 څخه کورنۍ جګړه پای ته ورسیده.




لینکُلن د تسلیمیدو  په وخت کې نه و حاضر. دغو دوو جنرالانو په محکمه کې سره ولیدل، ګرانټ له لي سره په سخاوتمندانه چلند کې محتاط و ځکه دی پوهیدو چې دا هغه څه وو کوم چې لینکُلن غوښتل. ماته خوړلي سرتیري به په کوڅو کې رسم ګذشت نه کوي او نه به پیغور ورکول کیږي، دوی ته به دا اجازه هم وي چې خپل آسونه وساتي او ګرانټ ته ویل شوي چې د لوږې څخه هلاکیدونکیو متفقو ځواکونو ته دې ډوډۍ برابره کړل شي او ور دې کړل شي.




په واشینګټن کې زیات شمیر خلک له سپینې ماڼۍ راچاپیره ول او هر چا د لینکُلن چیغې وهلې. ټاډ چې په کړکۍ کې له کانفدرال بیرغ سره ښکاره شو نو د خوشحالی چیغې پورته شوې، وروسته لینکُلن راښکاره شو او د موسیقۍ ډلې ته یې وویل چې جنوبي موسیقي (ډیکسي) چلانه کړئ، دا دده د خوښې موسیقي وه، ده وویل چې دا سندره اوس بیا هم په ټول هیواد پورې تړاو لري. لینکُلن ددغې ورځې لپاره له ډېره وخته راهیسې پلان ګزاري کوله. د جنګ ځنډولو پر ځای د سولې بیرته راوستل ډېر مهم ول او دا خبره نوره هم سخته کیدله. د لینکُلن د تشویق پر اساس کانګرس په اساسي قانون کې دیارلسمه زیاتونه هم وکړه؛ دغې اصلاح په ټوله امریکا کې غلامي ممنوع وګرځوله. په دویمه افتتاحیه وینا کې لینکُلن وویل چې ده غوښتل تر څو یاغي شوي ایالاتونه بیرته اتحادیې ته راولي. دا چې د ملي شورا ماڼۍ

څخه د باندې يې د خلکو لوی اجماع ته خبرې کولې نو پدې کې هر چا د ده تشويق نه کولو، يو عکس ښايي چې جان ويلکس بوت او ملگري يې نږدې ولاړ وو او دوی د ولسمشر د وژلو لپاره لا له وړاندې پلانونه ترتيب کړي ول تر څو ولسمشر ووژني.



**جان ويلکس بوت**



بوت یو کامیابه اداکار و او ځینو خلکو به ده ته د امریکا د ترټولو ښکلي سړي څخه ویل. ده خپل ځان کانفدراسی(متفقو) ته وقف کړی و او پدې یې باور درلود چې غلامي یوازې د سپین پوستو لپاره نه بلکې د تور پوستو لپاره هم ګټوره ده. هغه لینکُلن ته په بده سترګه کتل او داسې فکر یې کاوه چې لینکُلن بداخلاقه او بې کلتوره شخص دی، پدې هم مطمین و چې لینکُلن هیواد ورانوي. د دویم ځل ولسمشر کیدو څخه یوه میاشت وروسته لینکُلن یو خطرناک خوب ولیدلو؛ پدغه خوب کې د سپینې ماڼۍ پر لورې روان و او ځان یې په یوه تابوت کې مړ ولیدلو، له یوه ساتونکي یې پوښتنه وکړه چې څه شوي؟ ساتونکي ځواب ورکړ چې ولسمشر(دی) د یوه قاتل او خونکار پواسطه وژل شوی.

## بیا رغونه

لینکلن غوښتل چې یاغي شویو ایالتونو ته په خلاصه غیږه هرکلی وکړي، د لینکلن د مرګ وروسته مرستیال ولسمشر انډریو جانسن هڅه وکړه چې د لینکلن تګلاره تعقیب کړي خو د تورپوستیو لپاره د یوشان حقونو په ورکولو یې باور نه درلود. کانګرس څوارلسم او پنځلسم قانونونه هم پاس کړل چې پکې د تورپوستو حقونه خوندي ساتل شوي ول او د رایې ورکول حق هم ورکړل شوی و. جنوب ته لازمي وه چې دا کارونه قبول کړي؛ ددې د ترسره کولو لپاره یې باید یاغي شویو ایالتونو ته بیرته مکمل حقوق ورکړي وای چې لینکلن هم همدا هیله لرله خو کانګرس په دوی باندې یو نظامي حکومت تحمیل کړ چې دا کار د کلونو تشدد او توکم پالنې پیل و. ایا لینکلن به غوره دنده ترسره کړې وای؟ موږ به هېڅلکه پوه نشو..!




**انډریو جانسن**




درې ورځې وروسته د  ۱۸٦۵ م کال د اپریل پر ۱۴مه لینکُلن د خپلې کورنۍ او ځینو ملګرو سره د فورډ تیاتر یو کومیډي ننداري ته ولاړل، میري او ده غوښتل چې ارام وکړي او خوند واخلي. په هغه ماسپښین یې دي ته ویلي ول چې «موږ به په راتلونکي کې لا ډېر خوشحاله شو» لینکُلن په تیاتر کې په یوه لوکسه څوکۍ ناست و او میرمنې یې میري د ده لاس نیولی و او له

خپل خاوند سره يې ناز او نخرې کولې.



جان ويلکس بوت پدې پوهيدو چې لينکُلن به سينما کې وي، هلته يې خپل اکټينګ وکړ او خپل ځای ته چې له وړاندې معلوم و، ولاړ. دا چې د لينکُلن ځانګړې کوټنۍ ته د ده تګ مشکل نه و نو د لينکُلن شاته يې ځان ورساوه او پر هغه يې ډز وکړ. د بوت د ډز غږ د خلکو په

خنداوو کې ورک شو، بوت ستېج ته په نخره يې انداز له ټوپ کولو وروسته وتښتید، دا دده یو ځان ښودونکی حرکت وو چې د زیاتو نندارو پر مهال به يې کاوه.




لینکُلن سملاسي مړ نه شو، له تیاتره په کوڅه کې یوه کور ته یوړل شو، هلته کټ ډېر کوچنی وو او دومره اوږد ولسمشر پکې نه ځاییدو نو له همدې امله په بالښتونو تکیه کړل شو. چارپیر ورڅخه خپل مشاورین، کورنۍ او ملګري راټول ول، د نهو ساعتو لپاره په کوما کې و خو راتلونکی سهار په ۷ بجو او ۲۲ دقیقو د تل لپاره پر ابدي خوب ویده شو، د مرګ پر مهال یې عمر ۵٦ کاله و.

## ۱۰)لسم څپرکی ـ ولسمشر سره خدای په اماني


جان ویلکز بوت هېڅکله محکمې ته حاضر نه کړل شو، له دغې وژنې څو ورځې وروسته د ده پټنځای پیدا کړل شو خو د منډې پر مهال وویشتل شو او مړ شو.





بوت فکر کولو چې د ده دا کار يو ډېر ښه او شريف کار و اما په ټول هيواد کې خلکو د ولسمشر پر مرگ وير کولو. ساعتونه دريدلي ول تر څو دده د مرگ وخت معلوم او وټاکل شي، واشنګټن ته د ولسمشر د درناوي لپاره ميليونونه خلک راغلل، د لينکُلن جسد په يوه خاص اورگاډي کې بيرته د سپرينگ فيلډ په لور روان کړل شو. دا هغه ځای و چې دی پکې خاورو ته سپارل کيدو. د زوی تابوت يې هم راوويستل شو او له ده سره يې يو ځای روان کړ. ريل گاډی بيرته په هماغه لار روان شو په کومه چې لينکُلن د ولسمشر په حيث واشنګټن ته راغلی و، په هر تمځای کې به ډله ډله خلک دده له تابوت سره چې څلور ټايريزې بگۍ (واگن) به ورسره وې، يو ځای کيدل. کله وار به دغه قطارونه دومره اوږده شول چې درې مايلونو ته به هم ورسيدل، خلکو به په ساعتونو انتظار کاوه تر څو د خپل محبوب ولسمشر سره خدای پاماني وکړي. ميري لينکُلن د خپل ميړه د مرگ پر اساس سخت ټکان خوړلی و او له دغې انزوا او

ټکان څخه هېڅکله روغه نشوه، د جنازې مراسمو ته د تګ پر مهال ډېره غمجنه وه . خلکو به اوس هم پر دې نیوکه کوله او ویل به یې چې دې د سپينې ماڼۍ هغه شیان واخیستل چې د دې نه ول. وروسته ژوند یې هم خوشحال تیر نه شو.



په اتلس کلنۍ کې د ټاډ مرګ ـ شاید د توبرکلوز له امله وي ـ ددې لپاره یو نه منونکې پیښه وه، په ټولو زامنو کې یې یوازینۍ زوی رابرټ وو چې تر بلاغته ورسید خو دې او میري یو ځای نه اوسیدل. د دې ادعا پر اساس چې دې لیونۍ ده، د یو څه مودې لپاره یې په شفاخانه کې بندي کړه. رابرټ د زیات وخت لپاره د یوه دیپلومات او حقوقپوه په حیث دنده ترسره کړه، څو زامن او زیات شمیر لمسي یې لرل، رابرټ د ۸۲ کلونو په عمر په ۱۹٦۲ م کال کې ومړ. د


لینکُلن د مرگ څخه ۲۰۰ کلونه تیر شوي(کتاب په ۲۰۰۸ کال کې لیکل شوی) خو نن هم د امریکا د نورو ولسمشرانو په پرتله او د جورج واشنګټن څخه علاوه تر ټول با افتخاره ولسمشر بلل کیږي. دده عکس په پنځه ډالري نوټونو او ماتو پیسو شته، د هیواد په پایتخت کې یو ځلی هم لري.







د ده مخ د رشمور په غره حکاکي شوی دی، زیات ښارونه، مختلف غرونه، پنځه ملي پارکونه او نولس کونټیانې(د ښار وړې برخې) دده په نوم نومول شوي دي، دده په هکله سلګونه کتابونه لیکل شوي دي او د ولسمشرۍ په ورځ د واشنګټن سره یو ځای د ده یاد هم لمانځل کیږي.



## د لینکُلن یادگار

د مرگ له شیبې راهیسې دی د خپل ژوند له جوړښت څخه لوی او معتبر شمیرل شوی دی، خلکو به ده ته د یوه راهب په سترگه کتل. هو؛ دی یو سړی و، غلطۍ به یې کولې او ځینې مشورې به یې منلې چې په اوس وخت کې یې منل سخت کار دی خو دا ښکاره ده چې عادي سړی نه و، هیواد یې په یوه تیاره او تورتم وخت کې یو ځای وساتلو. امریکا بختوره وه چې دی یې لرلو.



## د رش مور غر

### د لینکلن یادګار

د ولسمشر لینکلن له مرګ یوازې دوه کاله وروسته کانګرس دا نظریه وړاندې کړه تر څو د ده د افتخار لپاره یو ځلی جوړ شي، د دغه ځلي کار تر ۱۹۲۲ م کال پورې نه و پای ته رسیدلی، د لینکلن زوی رابرټ تر دې مهال ژوندی و او د دغې ځلي افتتاح ته هم ولاړو. دغه ځلی په یوه یوناني کلا کې جوړ شوی چې د لینکلن یوه ستره مجسمه هم پکې ده. ( که چیرې د امریکا ماتو پیسو ته وګورئ په هغې کې د لینکلن د یادګار انځور دی او پکې یوه کوچنی مجسمه هم لیدلی شې چې د منځنیو ستونونو په منځ کې واقع ده). د دغه کلا په دیوالونو د ګیټسبرګ ادرس او د لینکلن دویمه افتتاحیه وینا حکاکي شوي ده خو حکاک په غلطی کې د راتلونکي (فیوچر) پر ځای ایوچر حکاکي کړی دی؛ کله چې ورغلی نو دا املایي غلطي اوس هم لیدلای شئ. د لینکلن د تورپوستیو په تاریخ کې د لینکلن په ځلي کې ډیرې مهمې پیښې ترسره شوې؛ په ۱۹۶۳ م کال کې مارتین لوتر کینګ خپله مشهوره وینا «خوب وینم» ددغې ځلي له زینو وکړه.

## د ګیټسبرګ وینا
## د لینکُلن دوې دقیقې وینا

اوه اتیا کاله وړاندې زموږ پلرونو دغې براعظم ته یو نوی ملت راؤست هغه چې د ازادی پر مفهوم پوهیدو او دې وړاندیز ته یې ځانونه وقف کړل چې ټول خلک مساوي پیدا شوي دي. موږ اوس په یوه لویه کورنۍ جګړه کې ښکیل شوي یوو او دا ازمایو چې کوم با درکه ملت یا ځان وقف کړی ملت زیات تحمل کولای شي. موږ د جګړې په یوه لوی میدان کې سره مخامخ شوي یو. موږ راغلي یو چې د ځمکې یوه ټوټه برخه هغو خلکو ته وقف کړو کوم چې یې ځانونه د خپل ملت د ژوندانه لپاره خاورې کړل؛ دا وړ او مناسبه ده چې موږ دا کار وکړو خو په لویه کې موږ اختصاص نه شو کولای او دا ځمکه نه شو پاکولی، دغو زړورو ژوندیو او مړو سړیو چا چې دلته زحمت ایستلی، زموږ له عاجزه توانه پورته یې دغه ځای مشخص کړی او موږ نشو کولای چې کمی او زیاتی پکې راولو. نړی به زموږ خبرې چې دلته یې کوو لږې یاداشت کړي او بیخي به یې په یاد پاتې نه شي خو څه چې موږ دلته وکړل هېڅکله نشي هیریدلای. دا په موږ ژوندیو پورې تړاو لري چې ځان دې نا ختم شوي کار ته وقف کړو او د نورو په څیر چې جګړه یې وکړه او په میړانه یې پرمختګ وکړ، شو. دا زموږ لپاره مناسبه ده چې دلته واوسو او ځانونه دغې دندې ته چې زموږ پر وړاندې ده وقف کړو. ددغو مړو شویو څخه موږ په زیاته اندازه الهام اخیستی شو او دغې کار ته په عزت سره ځان وقف کولای شو. موږ اوس په لویه اندازه پریکړه کولای شو چې دغه مړه شوي خلک عبث ندي مړه شوي، بلکې ددغې قربانی له امله به خدای موږ ته ازادي را په برخه کړي او مرسته به وکړي چې د خلکو ، د خلکو پواسطه جوړ شوی، د خلکو تر څنګ او د خلکو لپاره حکومت د ځمکې له مخ څخه ورک نه کړي.

## د ابراهام لینکُلن د ژوند پیښلیک

۱۸۰۹ـ ابراهام لینکُلن د فبروری پر دوولسمه زیږیږي.

۱۸۱۸ـ نانسي هانکس، دده مور پر دغه کال مړه کیږي.

۱۸۱۹ـ د لینکُلن پلار د سارا بوش جانسټن سره واده کوي.

۱۸۳۱ـ لینکُلن د ایلینوی نیو سالېم ته کډه کوي.

۱۸۳۴ـ د ایلینوی عمومي جرګې ته انتخاب کیږي.

۱۸۳٦ـ د حقوقو سند ترلاسه کوي.

۱۸۴۲ـ د ایلینوی په سپرینګ فیلډ کې له میري ټاډ سره واده کوي.

۱۸۴٦ـ د امریکا د نماینده ګانو کور (ولسي جرګې) ته انتخاب کیږي.

۱۸۵٦ـ د جمهوریت غوښتونکیو د حزب په برابرولو کې مرسته کوي.

۱۸۵۸ـ د سټیفن ډاګلاس سره مناظرې کوي.

۱۸٦۰ـ د امریکا د شپاړسم ولسمشر په صفت ټاکل کیږي او جنوبي ایالتونه له اتحادیې څخه یاغي کیږي.

۱۸٦۱ـ کورنۍ جګړه پیلیږي.

۱۸٦۲ـ لینکُلن د خپلواکۍ اعلامیه خپروي.

۱۸٦۳ـ د ګیټسبرګ وینا ترسره کوي.

۱۸٦۴ـ بیا ولسمشر ټاکل کیږي

۱۸٦۵ـ جنرال رابرت لي تسلیمیږي، کورنۍ جګړه پای ته رسیږی؛ جان ویلکس بوت ولسمشر لینکُلن په مرمۍ ولي او وژني یې.!

**د ابراهام لینکُلن په ژوند کې د نړۍ پیښلیک**

۱۸۰۹ـ ایدګار الن پو او چارلس ډاروین پیدا کیږي.

۱۸۱۲ـ د امریکا او لویې بریتانیا تر منځ جګړه پیل کیږي.

۱۸۱۴ـ فرانسیس سکات کي (ستوري ـ د ستوریو ډک بیرغ) لیکي.

۱۸۲۰ـ د میسوري ایالت له غلامۍ څخه ازاد ایالت پیژندل کیږي.

۱۸۴۱ـ ساکسوفون اختراع کیږي.

۱۸۴۸ـ په ټوله اروپا کې انقلابي جنګونه ترسره کیږي.

۱۸۵۸ـ د اطلس سمند اخوا ته کیبل باندې لومړی تیلیګراف استول کیږي.

۱۸۵۹ـ چارلس ډاروین (د نوعو مبدا په هکله) کتاب خپروي.

۱۸۶۰ـ د فلورانس بلبل د نرسانو لپاره په انګلنډ کې یو ښونځی پرانیزي.

۱۸۶۱ـ په روسیه کې غلامان ازادیږي.

۱۸۶۲ـ کانګرس د یوې قارې لپاره د ریل ګاډۍ ډ سړک جوړولو اجازه ورکوي.

۱۸۶۳ـ لومړی ډله افریکایي ال اصله امریکایان د امریکا په پوځ کې ځای پر ځای کیږي.

۱۸۶۵ـ د امریکا اساسي قانون ته دیارلسمه اصلاح ور اضافه کیږي ـ په متحده ایالاتو کې غلامي پای مومي

**پای!**